# د استاد عبدالرحمان پژواک ژوندلیک

قاضي عبدالله خان چې یو جید عالم او مشهور فقیه و، د خپلو حکومتي دندو په لړ کې په غزني کې د محکمې د قاضي په توګه په دنده وګومارل شو او د خپلې دندې د ترسره کولو لپاره له خپلې کورنی سره یوځای هغه ولایت ته کډه شو. د غزني په دې ویاړلي او تاریخي ښار کې د اوسېدو په وخت خدای تعالی (ج) هغه ته په (۱۶ حوت ۱۲۹۸ هجری شمسی = ۷ مارچ ۱۹۱۹ میلادی) کال کې یو زوی ورکړ چې نوم یې ورته عبدالرحمان کېښود. (اروابناد استاد پژواک په ختّه معروف خېل، د پلار له لورې د معروف خېلو په ټبر او د مور له خوا د سپین‌غر په خوګیاڼو کې د بارکزیو په قبیلې پورې تړاو لري؛ اصلا د ننګرهار .(ولایت د سره رود ولسوالۍ د باغوانیو اوسېدونکی

د نبوغ او ذکاوت نښې د همغه ماشومتوب له دورانه د عبدالرحمان په څېره کې له ورایه ښکارېدې، په غزني کې د قاضي عبدالله د دندې موده پای ته ورسېده او بېرته له خپلې کورنۍ سره د ننګرهار ولایت سرخرود ولسوالۍ کې خپل ښکلي پلرني کلي باغباني ته راستون او دلته استوګن شو. د خپلو اولادونو او نورو لرې او نږدې طالب العلمانو د زده کړې او تربیې په هڅه کې شو، له همدې کبله عبدالرحمان د خپل پلار او مشر ورور قاضي حفیظ الله د درسونو په حلقو کې ګډون کاوه او مخکې تر دې چې د خپل کلي باغباني سره نږدې ابتدایه ښوونځي "مطلع دانش" کې شامل شي، د لومړني لوست او سواد له نعمت څخه برخمن شوی و. عبدالرحمان په دې ښوونځي کې تر دوو درېو کالو درس ویلو وروسته مجبور شو چې له خپل پلار او کورنۍ سره د .خوګیاڼیو کرېږ ته کډه وکړي، ځکه ښاغلی پلار یې هلته د محکمې په دنده وګومارل شو

بالاخره قاضي عبدالله د کابل ښار د مرافعې محکمې ته تبدیل شو، د کابل د ده افغانانو په نواباد کې یې یو لوی کور وپېره او د خپلې کورنۍ له غړو سره په کې استوګن شو. عبدالرحمان د حبیبیې په لېسه کې شامل شو او د خپلو استادانو په خبره، درسونه یې په خورا شوق او بریالیتوب مخته وړل. همداشان د خپلې وړتیا او ذوق په اساس یې د شعراو ادب په برخه کې هم لاس او لېوالتیا درلوده او د حبیبیې په لېسې کې به یې د غونډو او کنفرانسونو په لړ کې خپل مقالې او شعرونه هم وړاندې کول. د ښوونځي د فوټبال په ټیم کې د ځلېدونکي ستوري په توګه پېژندل کېده، نوموړي په بریالیتوب سره د لېسې دوره پای ته ورسوله او په هغه وخت چې یوازې همدا د طب یوازنۍ رشته وه د دوو کالو په موده کې یې طب ولوست. په دې وخت کې یې پلار د تمیز د رییس په حیث دنده ترسره کوله او د زړه د سکتې له کبله ومړ. د پلار ناڅاپه مړینه د دوی د کورنۍ د ژوند پر چلن ډېر بد اغېز وکړ او ناارامي یې رامنځ ته کړه، لکه څنګه چې مشر ورور یې قاضي حفیظ الله په شمالی کې د قضا د دندې پر مهال په شهادت رسېدلی و، ځوان عبدالرحمان د پلار تر وفات وروسته د کورنۍ مسؤولیت په غاړه واخېست او د خپلو کشرانو وروڼو د تربیې، زده کړې او معیشیت د لاښه کېدو په خاطر یې په کابل کې مجبوراً د خپل  تحصیل لړۍ پای ته ورسوله، خپل پلرنی .کور یې خرڅ کړ او د کورنۍ غړي ښځې او ماشومان یې بېرته خپل پلرني کلي باغباني ته ولېږل

عبدالرحمان د خپلې وړتیا له مخې لومړی د کابل ادبي انجمن په تاریخ څانګه کې د انګلیسي ژبې ترجمان وټاکل شو. بیا چې د مطبوعاتو مستقل ریاست تشکیل شو، د نشراتو د عمومي مدیریت د دویمې څانګې مدیر شو او څو ورځې پس د اصلاح ورځپاڼې لوی چلوونکی تعین شو. څو میاشتې وروسته پر دې سربېره د باختر اژانس لوی مدیریت هم ورسپارل شو. بیا د پښتو ټولنې .مشر( لوی مدیر) شو او بیا د مطبوعاتو ریاست د نشراتو لوی مدیر وټاکل شو

نوموړی په دې کلونو کې د خپلې شعري او ادبي وړتیا له مخې په خپلو مطبوعاتي دندو کې داسې وځلېد چې د دولتي لوړ پوړو چارواکو، ادیبانو او نورو عامو خلکو پاملرنه یې ځان ته راواړوله. په لومړیو کې یې په خپلو اثارو کې "وفا" تخلص کاوه، وروسته

يې "مړاو" او بيا يې "ارمانجن" تخلص غوره کړ او بالاخره د "پژواک" تخلص په غوره کولو د افغاني ټولنې او ټولې بشري کتلې د لوړو انساني ارمانونو د ږغ د انعکاس رښتينی پژواک شو.

د عبدالرحمان پژواک د شعرونو او اثارو پښتو او دري ببلګې د هېواد د هغه وخت د رسنيو د ورځنيو خپرونو ښکلا او خوړلنې شوه او وروسته يې د شاعرانو او اديبانو په حلقو کې مينوال خورا زيات شول او په دې برخه کې يې لوړ مقام ترلاسه کړ. استاد عبدالرحمان پژواک په ۱۹٤٦ م کال په لندن کې د افغانستان په لوی سفارت کې د کلتوري او مطبوعاتي اتشې په توګه په دنده وګومارل شو او د لومړي ځل لپاره يې له هېواد نه بهر په سفر او مطالعې پيل وکړ. په ډېپلوماتيکه برخه کې يې مشق او تمرين وکړ. هلته يې په انګليسي ژبه د افغانستان د معرفي کولو او د "پښتونستان" د داعيې لپاره د اثارو په ليکلو او خپرولو لاس پورې کړ. نوموړي په دې دوره کې خپلې لوړې زده کړې په ژورنالېزم او نړيوالو اړيکو په برخه کې د سکاټلنډ په ادنبره پوهنتون کې مخته يوړې. استاد پژواک د سفارت له چارواکو سره د نظر مخالفت پيدا کړ او له دندې يې استعفی وکړه. په کاناډا کې يې د کار او کارګر په نړيوال سازمان کې په ۱۹٤۷م کال کې د اطلاعاتو په څانګه کې په کار پيل وکړ، يو کال وروسته په واشنګټن کې د افغانستان په سفارت کې د مطبوعاتي اتشې په توګه وګومارل شو، (۱۹٤۸-۱۹۵۰م). له هغه ځايه بېرته د مطبوعاتي او کلتوري اتشې په توګه په لندن کې افغان سفارت ته تبديل شو، (۱۹۵۰-۱۹۵۳م). هغه له دې وظيفې څخه تر يو څه مودې وروسته بېرته استعفی وکړه، هېواد ته ستون شو او د څه وخت لپاره، يې رسمې دنده نه درلوده.

چارواکو وغوښتل چې د استاد پژواک له سياسي وړتيا او ډېپلوماتيکو مهارتونو څخه ګټه واخلي، نو هغه ته يې د بهرنيو چارو په وزارت کې د دربېې سياسي څانګې د مدير په توګه دنده ورکړه، (۱۹۵۳). استاد پژواک د اړوند وزارت په مختلفو څانګو کې د خپل لياقت او وړتيا په ښودلو سره وتوانېد چې د عمومې سياسي مديريت مقام ته ځان ورسوي، (۱۹۵۵-۱۹۵۸م). استاد پژواک د دې مهم لوړرتبه ماموريت په خپلولو سره وکولای شول چې په ټولو سيمه ييزو کنفرانسونو، د غيرمنسلکو هېوادونو او نړيوالو غونډو په ناستو کې د افغانستان د يو نامتو استازي په توګه ونډه واخلي، چې د هغو له ډلې يوازې د لاندې کنفرانس يادونه کوم:

استاد پژواک د غيرمنسلکو هېوادونو د مشرانو په لومړني کنفرانس کې د افغان پلاوي د غړي په توګه ګډون وکړ چې ياد کنفرانس د اندونيزيا په باندونګ کې ترسره شو چې د غيرمنسلک نهضت اساس په کې کښېښودل شو او افغانستان هم د دې سازمان د بنسټګرهېواد په توګه وپېژندل شو، (۱۹۵۵م).

استاد عبدالرحمان پژواک په کال (۱۹۵۸م) کې د نيويارک په ښار کې د ملګرو ملتونو په سازمان کې لومړی د وزير مختار او وروسته د افغانستان د لوی سفير او دايمي استازي په توګه وګومارل شو. نوموړي شاوخوا څوارلس کاله ياده دنده په ډېرو ښو فعاليتونو سره ترسره کړه، هغه چې په نړيوالو مسايلو کې کوم بېساری اهليت او وړتيا وښودله، د ملګرو ملتونو د سازمان د يو ځلانده او باور وړ څېرې په توګه وپېژندل شو. په همدې خاطر د افغانستان د لوی سفير د دندې ترڅنګ د ملګرو ملتونو د سرمنشي له خوا د امنيت د شورا په تاييد د نورو مهمو نړيوالو چارو د ترسره کولو مسؤوليتونه هم وخت په وخت ورسپارل کېدل، چې په دې لنډه ليکنه کې د ټولو يادونه ناشوني ده. دلته يوازې په لاندې مواردو بسنه کوم:

۱- د جنوبي ويتنام د معضلې د حل په اړه د ځانګړې کمېټې رييس.

۲- د ملګرو ملتونو د سازمان پر منشور د بيا کتنې د کمېټې رييس.

۳- د ملګرو ملتونو د سازمان د بشر د حقونو د کميسيون رييس.

٤- د ناميبيا د چارو په اړه د عمومي اسمبلۍ د ځانګړې غونډې رييس.

پر دې سربېره استاد پژواک د غیرمنسلکو هېوداونو د مشرانو په دوو کنفرانسونو کې چې یو په (۱۹٦۱م) کال کې په بلګراد او بل یې په (۱۹٦٤م) کال کې په قاهره کې ترسره شو هم ګډون درلود. مرحوم استاد پژواک د خپلې سیاسي ورتیا پر بنسټ او هغه باور چې یې د ملګرو ملتونو له سرمنشي او غړو هېوادونو له استازو څخه ترلاسه کړی و، په (۱۹٦۷_۱۹٦٦م) کال کې د یاد سازمان د یوویشتمې عمومي ناستې د رییس په توګه غوره شو، چې د دې لوړ مقام ترلاسه کول یې په نړیواله ټولنه کې هم د ځان او هم د خپل ګران هېواد د سرلوړۍ لامل شو.

د عمومي اسمبلۍ د ریاست په دوره کې استاد پژواک د ځینو هغو اضطراري غونډو ریاست هم کړی دی چې د عربي هېوادونو او اسراییلو د جګړې د ګرمېدو په اړوند وې او نړیواله اوضاع یې تر بل هر وخت ډېره کړکېچنه کړې وه. په نړیوالو چارو کې د استاد پژواک نبوغ، ځیرکتیا او پوهې دومره پوخ ملاتړ او باور ورته جوړ کړی و چې داسې ویل کېدل که چېرې "اوتانت" د ځینو ستونزو له کبله د ملګرو ملتونو د سرمنشي په توګه خپله دنده تر سره نه شي کړای، د امنیت د شورا ټولو غړو او د مخ پر ودې هېوادونو استازو استاد پژواک د راتلونکي سرمنشي په توګه د غوره نوماند په توګه یاد کړی و. د دې موضوع ثبوت د امریکا او نورې نړۍ د همهغه وخت په معتبرو ورځپاڼو کې شتون لري. مرحوم استاد عبدالرحمان پژواک په (۱۹۷۲م) کال په بن کې د افغانستان د لوی سفیر په توګه دنده ترسره کړه او د (۱۹۷٦-۱۹۷۳م) کلونو تر منځ یې لومړی په نوي ډهلي او وروسته په لندن کې د افغانستان د لوی سفیرپه توګه دندې ترسره کړي دي. د ډهلي د ماموریت په وخت کې یې لاندې دندې ترسره کړي دي:

۱- په الجزایر کې د غیرمنسلکو هېواونو د مشرانو په ناسته کې د جمهور رییس ځانګړی استازی او د افغان پلاوي مشري (۱۹۷۲م).

۲- په پاکستان کې د اسلامي هېوادونو د مشرانو په غونډه کې د جمهور رییس ځانګړی استازی او د افغان پلاوي مشري (۱۹۷۳م).

۳ - په کولمبو کې د غیرمنسلکو هېوادونو د مشرانو په غونډه کې د افغاني پلاوي غړیتوب (۱۹۷۷م).

مرحوم استاد پژواک په هېواد کې د ثور د اومې ۷ خونړۍ او شرموونکي کودتا او د یرغلګرو روسانو له خواد وطن له اشغال سره سم په لندن کې د افغانستان له سفارت څخه استعفی وکړه او وطن ته راستون شو (۱۹۸۷م).

کابل ته له رارسېدو سره جوخت د نورمحمد تره کي د رژیم له خوا په خپل کور کې تر څار او توقیف لاندې ونیول شو. مرحوم استاد پژواک په هغه لیدنه کې چې په کابل کې یې د وخت د لاسپوڅي حکومت د رییس ببرک کارمل په ټینګار له نوموړي سره ترسره کړې وه، د "پدر وطن" په ټولنه کې یې له مرستې کولو څخه په ډاګه ډډه کړې وه

او خپل نظر یې په اړونده موضوع کې هم په شفاهي اوهم په لیکلې بڼه نوموړي ته وړاندې کړی و. له نېکه مرغه د هغه لیک د متن کاپي د اتیایمې لسیزې په وروستیو کې په نیویارک کې د نجیب د استازولۍ له خوا د استاد پژواک او نجیب له ټیلیفوني اړیکي وروسته د فرهاد پژواک لاسه ته ورسېدله او د لاخبرونې په موخه د استاد پژواک حضور ته وړاندې شوه.

د هغو ټیلیفوني خبرو تفصیل او د هغې تاریخي او ارزښتمن لیک متن په دې کتاب کې راوړل شوی دی. په همدې وخت کې د استاد پژواک ناروغي سخته او بطني وینه بهېدنه ورته پیدا شوه. نوموړی د معالجو ډاکټرانو د ټینګاراو مشورو پر بنسټ د درملنې په موخه ډهلي او لندن ته ولاړ، (۱۹۸۰م). استاد له عملیاتو وروسته بېرته کابل ته راستون شو او د وطن د خپلواکۍ او خپلو خلکو د برخلیک ټاکلو د حق او نورو عمومي حقونو د ترلاسه کولو په موخه یې په ښکاره او پټې مبارزې لاس پورې کړ. له هغې ډلې یې د پوهنتون د استادانو، ځوانانو او نورو دوستانو په مرسته په پټه توګه د "بشر د حقونو ټولنه" رامنځته کړه. د

شپې پاڼو په خپرولو یې پیل وکړ، له بده مرغه د استاد پژواک روغتیا ښېرته مخ په خرابېدو شوه او په (۱۹۸۲م) کال د درملنې او کمونستي نظام پر وړاندې د مبارزې په موخه ډهلي ته ولاړ.

په ډهلي کې یې د کمونستي رژیم او د روسانو له خوا د هېواد د اشغال پر ضد د یو مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې خپل مخالفت اعلان کړ او د ملګرو ملتونو د سازمان څخه یې د سیاسي پناه ورکولو غوښتنه وکړه. استاد پژواک مرحوم تر یو څه درملنې وروسته د افغان جهاد د برحقو هڅو او ازادۍ غوښتونکو مبارزینو لپاره د ملاتړ ترلاسه کولو او د افغان سیاسي شخصیتونو او نورو ادرسونو سره د لیدنو او مذاکرو په موخه المان ته ستون شو. په لوېدیځ المان کې د پاکستان سفارت د خپل حکومت په هدایت له استاد پژواک څخه هیله وکړه چې د افغانستان د قضیې د حل په موخه د مذاکرو او خبرو اترو لپاره د یوه ځانګړي او اغېزمن مېلمه په توګه پاکستان ته سفر وکړي. په پاکستان کې تر درېو میاشتو تم کېدو او مذاکراتو وروسته د افغانانو او ملګرو ملتونو له سازمان سره د مفاهمې په خاطر اروپا او امریکا ته وخوځېد او ورپسې بېرته پاکستان ته را وګرځېد (۱۹۸۳م).

دلته د خپلو سیاسي فعالیتونو په ترڅ کې یې له جهادي رهبرانو، قومندانانو، د قومونو او قبایلو مشرانو، پوهانو او ژورنالستانو سره پر لیدنو کتنو بوخت شو او په "وفا"، " افغان مجاهد"او په ځانګړي ډول د "مجاهد ولس" په مجلو او په نورو ټولنیزو ارتباطي وسایلو کې یې د خپلو مرکو او مقالو له لارې په ټولو سیاسي او نظامي جبهو کې د یې اتفاق له بدو او خطرناکو پایلو څخه خبرول. د پاکستان حکومت د استاد دا غوښتنې او کړنې د خپلو ګټو او طرحه کړو پلانونو پر وړاندې په زیان او تضاد کې ګڼلې. ورځ تر بلې یې پر استاد فشار راوړ او له خپلو هېوادوالو سره یې د نومورې پر لیدنو او اړیکو بندیزونه ولګول او ستونزې یې ورته جوړولې، خو استاد یې هیڅ پروانه کوله او په خپلواکه توګه یې په خپل مسیر کې خپلو هڅو ته د یوه رښتني مجاهد لاربښود په توګه په ډېرې زړورتیا سره دوام ورکړ. تر دې چې د پاکستان حکومت د پېښور په حساسه سیمه کې تر دې زیات د استاد پژواک استوګنه نه شوه زغملای او هغه یې د "نامطلوب شخص" په توګه اعلان کړ چې ژر تر ژره له پاکستان څخه ووځي او د وتلو تر وخته یې استاد پژواک په خپل کور کې تر ټینګ څار لاندې ونیوه. بالاخره نوموړی د ملګرو ملتونو د سازمان د پناه ورکونکو د دفتر په منځګړیتوب امریکا ته ستون شو.

مرحوم استاد پژواک په نیویارک کې د مجاهدینو له ګډون څخه پرته د ژنیو خبرې په معقولو دلیلونو رد کړې او ورسره جوخت یې د ملګرو ملتونو د سولې د پنځه فقره ییزه پلان پر وړاندې د افغانستان د خلکو د لوړو ګټو د ساتلو په موخه یو ټولیز او د عدالت پر بنسټ کره پلان جوړ او د ملګرو ملتونو سازمان ته یې وسپاره (د یاد پلان د اهمیت په خاطر یې کاپي د دې کتاب په ضمیمو کې راوړل شوې ده). مرحوم استاد پژواک تر یو شمېر فعالیتونو او درملنې وروسته د (۱۹۹۱م) کال په لومړیو کې د مسافرت د وېزې په ترلاسه کولو سره د افغانستان اړوند په پلان شوي سیمېنارکې د ګډون لپاره پاکستان ته سفر وکړ. مخکې تر دې چې په پېښور کې د استاد پژواک د وروستیو کلونو د استوګنې په ترڅ کې د نوموړي پر ملي او جهادي خدمتونو لنډه رڼا واچوو دلته د دوو ټکو یادونه غوره ګڼم.

لومړی: له بده مرغه کومه دوامداره ناروغي چې د کډوالۍ په اوږدو کلونو کې د استاد پژواک سره مله وه، نوموړی یې تل ځوراوه. دویم دا چې: امریکا او نورې نړۍ استاد پژواک مرحوم د ژوند د ټولو اسانتیاوو او مادي امکاناتو په شتون کې د مېلمه او کډوال په توګه مانه او هر ډول مادي امتیاز او پناه یې ورکوله، خو استاد دا ټول امکانات له پامه غورځول او له خپلو هېوادوالو سره یې نېږدې استوګنه غوره کوله. د اتیایمې مېلادي لسیزې په منځنیو وختونو کې د استاد ځینو هېوادوالو او لمسي فرهاد پژواک په واشنګټن کې په یوه خپلواکه کوټه کې د اوسېدنې پر وخت د استاد د چوپړ ویاړ درلود او په امریکا کې د نوموړي د استوګنې په

وروستیو دوو کلونو کې د پاکستان له سفر مخکې یې فرهاد سره د هغه په کور کې په ویرجنیا ایالت کې د یوځای اوسېدو ویاړ وریه برخه کړ.

ارواښاد استاد پژواک د افغانستان د خلکو د ملي او پر حق جهاد له پیل څخه په دې باور و چې رهبران او ملي مبارز افغان شخصیتونه باید د امکاناتو د ترلاسه کولو په صورت کې په افغانستان کې دننه د خپلو جهادي او سیاسي فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره یو واحد سیاسي مرکز رامنځ ته کړي. له دې هڅو او ټینګار څخه موخه داوه چې مجاهدین وکولای شي چې د لاسپوځي نظام د نسکورېدو څخه وروسته، واحد سیاسي او اداري تشکیلات را منځته کړي چې وروسته سیاسي تشه او د مختلفو تنظیمونو ترمنځ ټکر رامنځ ته نه شي، چې پایلې به یې د وطن د خلکو لپاره ډېرې بدې او خطرناکې وي. استاد پژواک ددغه مفکورې او خپلو نورو ارمانونو د ترسره کېدو لپاره اروپا، امریکا او پاکستان ته تر ځلونو سفرونو وروسته، همداشان د افغانستان د مېړني، غیرتمن او ازادۍ غوښتونکي ولس د جهاد د مرحلو د ګرمې او سړې مطالعې څخه وروسته بالاخره د (۱۹۹۱م) کال په لومړیو کې بېرته پاکستان ته ستون او په پېښور کې چې هیڅکله یې دا سیمه پردۍ نه ګڼله مېشت شو.

د استاد پژواک د استوګنې ځای یو ځل بېرته د مجاهدینو، پوهانو، کورنیو او بهرنیو ژورنالستانو او د هېواد د وګړو د یوځای کېدو مرکز شو، د ګاونډیو او نورو بهرنیو هېوادونو لاسوهنو، د افغانستان د ورونو ولسونو ترمنځ د بې اتفاقۍ رامنځ ته کېدل او د نویمې مېلادي لسیزې په پیل کې د دربو کالو په لړ کې کورنیو جګړو چې له امله یې په زرګونو بې ګناه هېوادوال ووژل شول او د کابل تاریخي ښار او د هېواد نورې سیمې په کنډوالو بدلې شوې، دې حالتونو استاد پژواک روحاً او جسماً رنځاوه، چې دغه درد او رنځ یې په خپلو مرکو، مقالو، اثارو او شعرونو کې د خپل ویاړلي ژوند په وروستیو شپو او ورځو کې بیان کړی دی.
یو له هغو مواردو څخه چې استاد پژواک د اوږدو کلونو راهیسې پر هغې باور درلود او د هغې لپاره یې مبارزه کوله، هغه د افغانستان خلکو ته د هغوی د حقونو، سیاسي او فردي ازادیو ورکول دي چې یادې مبارزې ډېر ځله سرخوږی هم ورته جوړ کړی دی، ان د نوموړي د استعفی او له هېواد څخه د لرې ساتلو سبب هم شوی دی.

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه ارواښاد استاد عبدالرحمان پژواک په حبیبیې لېسه کې د زده کړې له دورې څخه د خپلې ذاتي او ذوقي وړتیا له مخې د ادبیاتو مینه وال و، چې خپله یې هم شعر او هم نثر لیکه او په دې برخه کې دومره وغوړېده چې د خپل وخت شاعرانو او ادیبانو په تصدیق سره هم د پښتو او هم د دري ادب په برخه کې د لویو شاعرانو له ډلې څخه وشمېره.
هغه دوستان چې استاد پژواک مرحوم له نږدې پېژني پر دې خبره به له ما سره همږغي وي چې استاد پژواک د خپل ځانګړي خصلت په اساس د مقام او منصب په لټه کې نه وو، ان کله چې به یې کوم شعر یا اثر د سفر یا حضر په وخت کې ولیکه، نو هغه به یې خپل کوم دوست او یا د کورنۍ کوم غړي ته ور وسپاره، نو ځکه تراوسه چې د استاد پژواک کوم منظوم او منثور اثار یا په انفرادي او یا په ټولیز ډول چاپ شوي دي، ډېری د نوموړي د دوستانو او کورنۍ د غړو په هڅو چاپ شوي دي.

له بده مرغه هغه د خپل ژوند تر وروستیو پورې د خپلو اثارو په راټولولو لاس پورې نه کړ. د استاد پژواک اثار په مراتبو له دې څخه چې تراوسه چاپ شوي دي زیات دي. تر کومه ځایه چې ماته څرګنده ده یو شمېر اثار یې په انګلیسي، فرانسوي، عربي او روسي ژبو ژباړل شوي او خپاره شوي دي. نور اثار یې چې له نېکه مرغه ځینې یې د استاد پژواک په خپل قلم لیکل شوي دي، ما سره موجود او چاپولو ته چمتو دي. دا اثار یې کابو د شلو کالو په اوږدو کې لیکلي دي او د هغه د باثمره ژوند په هغه دوره پورې اړه لري چې استاد د خپل کمال د پوخوالي لوړو پوړیو ته رسېدلی و. د فکري لوړتیا او فلسفي افکارو د ثبات او

ټینګښت په موده کې یې لیکلي دي، ښايي چې یاد اثار د پښتو او دري ادب په برخه کې د ډېرو مهمو او ارزښتمنو اثارو په ډله کې وشمېرل شي.

ارواښاد استاد عبدالرحمان پژواک ډېر لوړ او د قدر وړ شخصیت درلود. پر ژمنه یې وفا کوله، په ملګرتوب کې یې ټینګښت و، د رښتیا او حقیقت په ویلو کې یې ګړنی صراحت او بېساری جرأت درلود، څېره یې په زړه پورې وه او خبرې یې د طنز او ټوکو له خوږلنيو ډکې وې، په لوړې طبعې او وقار کې لکه غر داسې ټینګ او هسک ولاړ و. د ژوند په چلن کې له هر ډول تنګ نظرۍ او تکلف څخه پاک و، خپل هېواد او هېوادوال ډېر ورته ګران وو او د هغوی درناوی یې کاوه. د هېواد لوړې ګټې یې تر هر څه لوړې ګڼلې، هیڅکله یې مادیاتو ته لېوالتیا نه درلوده، ان د ځان لپاره یې سرپناه جوړه نه کړه او نه یې بل چاته اجازه ورکړه چې ورته جوړه یې کړي. استاد پژواک د خپلو هېوادوالو د لالهاندۍ د درد تر څنګ خپل اوږدې ناروغۍ هم ځوراو، او په وروستیو کې یې هغه ډېر ناتوانه کړی و. افسوس او سل افسوسه دی، چې استاد عبدالرحمان پژواک مخکې تر دې چې د خپل زړه پاکو ارمانونو ته چې خپلواکي، د هېواد د ملي حاکمیت استقرار او په خپل ګران وطن کې د عدل او امن ټینګښت و، ونه رسېد او له دې فاني نړۍ څخه یې د تل لپاره سترګې پټې کړې. هغه ازاد او نامتو شخصیت د "١٣٧٤"هـ . ش کال د جوزا په اتلسمه د پنجشنبې پر ورځ سهار چې د "١٩٩٥"م. کال د جون له اتمې او د "١٤١٦"هجري قمري د محرم الحرام د لسمې نېټې سره برابره وه، د شپږ اویا کالو په عمر د پېښور ښار په حیات اباد سیمه کې وفات شو، انا لله وانا الیه راجعون.

د مرحوم جنازه د جوزا پر نوولسمه نېټه د جمعې په ورځ د ننګرهار ولایت په سرخرود ولسوالۍ کې د دوی د پلرني کلي باغباني په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه. د جنازې په مراسمو کې یې ډېرو زیاتو خلکو لکه جهادي مشرانو، قومندانانو، د ختیځو ولایتونو د شوراګانو استازو، علماوو، افغان شاعرانو او نورو منسوبینو او مینوالو ګډون وکړ. د استاد د مړینې خبر په ډېر لږ وخت کې د ټولې نړۍ تر ګوټو ورسېد او پر ټولو مینوالو او افغان منسوبینو او غیرافغانانو یې ډېرژیات اغېز وکړ. د ملګرو ملتونو د سرمنشي په ګډون په سلګونو د خواخوږۍ او غمشریکۍ پیغامونه راورسېدل. په نیویارک کې د ملګرو ملتونو په ودانۍ کې په هغه ناسته کې چې د سرمنشي او نورو غړو هېوادونو استازو ګډون کړی وو، ټولو د مرحوم استاد پژواک پر مړینه خپل ژور خفګان څرګند کړ او د هغه د لوړ شخصیت او په ملګرو ملتونو کې د نومورې د ښو خدمتونو د ترسره کولو یادونه یې په قدردانۍ سره وکړه. د څو بیانیو تر وړاندې کولو وروسته ټول ګډونوال پر خپلو ځایونو ودرېدل او د یوې دقیقې لپاره یې چوپتیا غوره کړه. همدارنګه په سلګونو د فاتحې مراسم او نور د یادونې او قدردانۍ غونډې د قدردانو هېوادوالو له لورې ترسره شوې، چې د دوی د دې پېرزوینو له کبله د استاد پژواک د کورنۍ غړي له ټولو څخه د زړه له کومې مننه کوي او کوروداني ورته وايي.

**فرهاد پژواک**

**ورجینیا، امرېکا**

**سپټمبر ١٩٩٥**